شمیره 3

# بې حکومتۍ ته لاربودني

## د فساد ضد تګلارې او ایجنسۍ

Centre for Integrity in the Defence Sector

## د صداقت او رښتينولۍ مرکز په دفاعي سکتور کې

د صداقت او رښتينولۍ مرکز په دفاعي سکتور کې (CIDS) صداقت او رښتينولي، د فساد پر وړاندې تدابير او په دفاعي سکتور کې ښه حکومتولي ترويجوي. د ناروې او نړيوالو ملګرو سره په يوځای کارکولو کې، دا مرکز په دې هڅه کې دی چې وړتيا جوړه کړي، د باخبرۍ کچه لوړه کړي او د فساد د احتمالي ګواښونو د کمولو لپاره عملي ابزار برابر کړي. CIDS د ناروې د دفاع د وزارت لخوا په 2012 کال کې تأسيس شو.

په دغه کتابګي کې هغه نظريې چې ښرګندې شوې دي، د هغه د ليکونکي دي او حتمي نده چې د ناروې د دفاع د وزارت نظر ښرګند کړي، او نه هم بايد هغه د ناروې د دفاع وزارت ته منسوبې کړای شي.

## د ليکونکي په هکله

**فرانسيسکو کاردونه** په CIDS کې يو اړوند نړيوال کارپوه دی. کاردونه يو نامتو کارپوه دی چې د ملکي خدمتونو او عامه ادارې د اصلاحاتو ، اداري قانون او عدالت، د فساد ضد تګلارو او د بنسټ جوړونې په طرح او ارزونه باندې تمرکز لري. د ده ازمېښت د ده د ټاټوبي هسپانيې څخه، چيرې چې ده په عامه خدمتونو کې خپلې کاري سابقې ته پرمختګ ورکړ، بيا تر نړيوالو سازمانونو لکه د اقتصادي همکارۍ او ودې لپاره سازمان OECD ، د SIGMA تر پروګرام پورې غزېږي، چيرې چې کاردونه د تګلارې د يوه مشر تحليل او تجزيه کوونکي په توګه په ملکي خدمتونو کې په عامه حکومتولۍ کې 15 کاله تېر کړل. په SIGMA کې هغه 25 مخ په پرمختګ او د انتقال په بهير کې هېوادونو ته په شرقي اروپا، افريقا، لاتينې امريکې او د کارابيين په سيمه کې مشوره ورکړله. ده د يوه قانون پوه په توګه زده کړه تر لاسه کړې (په والينسيا پوهنتون کې ، 1976) او په عامه اداري کارونو کې يو زيات شمېر ماسترۍ لري.

# سریځه

## ښې حکومتولۍ ته لارښودنې

د کوچنیو کتابګیو یوه ټولګه ده چې هر یو یې په خاصه توګه په دفاعي سکتور کې د ښه حکومتولۍ د موضوګانو د اهمیت په اړه بحث کوي. کتابګي داسې طرح شوي چې لوستل یې اسانه دي پرته له دې چې هغه مسئلې چې په خپل ماهیت کې څو اړخیزې او کله ناکله تخنیکي دي، تر حده ډېر ساده کړای شي. دا لارښودنې د غیر مسلکي کسانو لپاره لیکلې شوې دي او په هرې کومې یوې خاصې رشتې کې پخوانۍ مسلکي سابقې ته اړتیا نلري. دوی کېدای شي چې د هغو کسانو لخوا ولوستلې شي چې یا په یوې موضوع کې لېوالتیا لري او یا خو هم په یو زیات شمېر موضوع ګانو کې چې په دفاعي سکتور کې د ښې حکومتولۍ په اړه دي ، یوه لېوالتیا ولري – او یا په عامه سکتور کې په عمومي توګه – او دوی همدارنګه کېدای شي د تعلیمي موخو لپاره وکارول شي.

د صداقت او رښتینولۍ مرکز په دفاعي سکتور کې (CIDS) د ناروې د دفاع د وزارت تر مشرۍ لاندې د وړتیا یو مرکز دی چې د ناټو د صداقت او رښتینولۍ د پروګرام په جوړولو کې یو فعال نقش لوبوي. د هغه په قیمومیت کې د پروژو، کورسونو او د وړتیا او ظرفیت جوړونې په ګډون، هم ملي او هم نړیوال کار نغښتی دی. په یوه منظم ډول د صداقت او رښتینولۍ د ترویجولو اصلي لامل د فساد د احتمالي ګواښونو او نورو غیراخلاقي چلندونو کمول دي، په داسې حال کې چې شفافیت او حسابورکونې ته هم ښه والی وربخښي. له همدې کبله، د یوې ښې حکومتولۍ لپاره په ډیموکراسۍ او د قانون د حاکمیت په چوکاټ کې شرایط برقرار شي. د دغه هوډ په موخه، ملکي مامورین د پرسونل سره او همدارنګه مسلکي صداقت او رښتینولي او لوړ اخلاقي معیارونه قاطع او فیصله کوونکي دي.

د فساد ضد *تکلارې او اېجنسۍ* لارښود د فرانسیسکو کاردونه په مټ لیکل شوی او د انګرېډ باستیرود Ingrid Busterud لخوا تصحیح شوی دی. زه غواړم چې د دوی د هیله بخښونکي کار لپاره له دوی څخه مننه وکړم.

د ښه حکومتولۍ د دې لارښود په هکله ملاحظاتو او ځوابونو ته تل ښه راغلاست ویل کېږي (cids@ifs.mil.no). د CIDS په اړه نور معلومات کېدای شي په www.cids.no ترلاسه شي.



**باړد بریډرپ نودسن (Bård Bredrup Knudsen)**
**رئیس**

# محتوا


مقدمه........ 3

د فساد ضد ايجنسي څه ده؟........ 4

وظيفې، واک او مسئوليتونه........ 5

د بريا عاملونه........ 7

د فساد ضد اېجنسيو د ماډلونو ډولبندي........ 13

د ځېلو او مخنيوي تر مينځ
معما........ 18

د فساد ضد تګلارو په بنسټيزه کولو
کې زده شوي لوستونه........ 21

نتيجه اخيستنې........ 24

# مقدمه

فساد په یوې ټولنې کې د یوې ژورې ناروغۍ او ' د حکومتولۍ د ناحل کړای شویو ستونزو نښانه ده چې د یوه اغېزناک او حساب ورکوونکي دولت د جوړېدلو د بهیر د نه بشپړېدو له کبله رامینځته شوې.[1] هغه د حکومتولۍ پر کمزورو بنسټونو، د سیاسي نخبه ګانو لخوا د دولت د منابعو په مدیریت کولو کې پر پاتې راتللو دلالت کوي او که چیرې فساد بدني وي، هغه همدارنګه کېدای شي چې د هېواد امنیت ته د یوه ستر ګواښ په توګه راڅرګند شي. همدغه بنسټیزه کمزورې چې فساد یې تولیدوي همدارنګه کولای شي پر ملي او نړیوال امنیت باندې منفي اغېز واچوي. فساد عامه خزانې ته یولوړ اقتصادي لګښت وراړوي او د اقتصادي ودې لپاره یو ستر خنډ ګرځي. هغه پر ټولنیز جوړښت یو ویجاړوونکی اغېز لري. فساد پر عامه بنسټونو او حکومتولۍ د عامه ویسا د تباه کولو لامل ګرځي.

دغه پاېې د تخصصي هیأتونو یا اېجنسیو له لارې د فساد ضد تګلارو بنسټیزه کولو ته رسېدنه کوي. هغوی پدې وروستیو کلونو کې په ډېرو هېوادونو کې خپرې شوې ، په تېره بیا د نړیوالو سازمانونو او نړیوالو تړونونو تر اغېز لاندې د یوه ابزار په توګه چې د فساد مخنیوی او پر وړاندې یې مبارزه وکړي. پدې وروستیو کې یوې ځېرنیزې شمېرې د فساد ضد اېجنیسو (ACAs) شمېر په نړۍ کې د سلو په شا او خوا کې وښود. د نړۍ تر ټولو نفوذ لرونکی کنوانسیون د ACAs په هکله د فساد پر وړاندې د ملګرو ملتونو کنوانسیون (UNCAC) شمېرل کېږي چې د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبلې کې د 2003 کال د اکتوبر  پر 31 نېټه ومنل شو.

---

1 OECD, 2007; "Policy Paper and Principles on Anti-Corruption: Setting an Agenda for Collective Action". Paris: OECD-DAC Publishing. At: http://www.oecd.org/dac/governance-peace/governance/docs/39618679.pdf

# د فساد ضد ایجنسي څه ده؟

د فساد ضد د یوې اېجنسۍ (ACA) تعریف کېدای شي داسې وشي چې هغه یو بنسټ دی، چې د یوه مټ په اندازه د حکومتي اجرایوي بنسټونو څخه لیرې دی، د کوم یوه اصلي وظیفه دا ده چې ټول هغه فعالیتونه همغاړي کړي چې د هېواد د فساد ضد تګلارې د تطبیقولو په لور یې خوځوي او چې د ستراتیژۍ د بیا طرح کولو او ودې لپاره نتیجه ګیري او ملاحظې وړاندې کوي. دا چې ACA د حکومت په ټول جوړښت کې په څه ډول طرح شوې او پرته ده ډېره اړینه ده، هم چې د هغې مسلکي خودمختاري او خپلواکي وساتله شي او هم د هغې د ځوابو ورکوونې او د اېجنسۍ د ارزښت موندنې څخه د وخت په اوږدو کې ډاډ تر لاسه شي.

دا تعریف د ډېرو تعریفونو له جملې څخه یو تعریف دی، خو دوه عمده عنصرونه، وظیفې (وړتیاوې) او موقعیت (او له همدې کبله د حساب ورکوونې کرښې)، هغه دوه بدلون منونکي دي کوم چې د ACA بېلابېل تعریفونه او ډول ملي ماډلونه په نښه کوي. څرنګه چې به یې موږ ووینو، په بېلابېلو هېوادونو کې د هغوی د وظیفو ، صلاحیتونو او تعیین شویو حساب ورکوونو اړوند د ACA یو زیات شمېر ماډلونه شته.[2]

2 OECD, 2013; “Specialised Anti-corruption Institutions: Review of Models”. Paris: OECD Publishing. At: http://www.oecd.org/corruption/acn/specialisedanti-corruptioninstitutions-reviewofmodels.htm

# وظيفې، واک او مسئوليتونه

د فساد ضد اېجنسيو ته اړوندې اصلي او تر ټولو معمولي وظيفې په لاندې ډول دي:

1. د فساد ضد تګلارو وړانديزونه؛
2. د فساد په اړه د څېړنو له لارې د هماهنګۍ، نظارت او پوهې جوړونه؛
3. د فساد څخه مخنيوی؛
4. د فساد ضد باخبرۍ د کچې لوړول او روزنه؛
5. د فساد د فرضي مواردو په هکله تحقيقات کول؛
6. د فساد قانوني تعقيب.

دا وظيفې کېدای شي په بېلابېلو هېوادونو کې په بېلابېله توګه ترکيب کړای شي. يو لړ ACAs پر مخنيوونکو وظيفو ټينګار کوي، د تحقيق او قانوني تعقيب پر ځای. نور يې د دې طرحې معکوس کار کوي. معمولاً، د ACA وظيفې د فساد ضد ستراتيژيو پراختيا او هماهنګۍ او د کړنې د پلانونه څخه جوړې دي، کوم چې د فساد ضد تدبيرونو نظارت او هماهنګې تطبيقوي او د هغوی د کارايۍ او اغېزمنتيا ارزونه تر سره کوي. د فساد په هکله څېړنې کولای شي موږ ته دا خبره ووايي چې په کومه کچه فساد په هېواد کې پراخ دی او کوم سکتورونه يې تر ټولو زيات په معرض کې واقع شوي دي. ACAs د فساد ضد تګلارو او کړنو په اړه د نړيوالې همکارۍ او د ازمېښتونو د تبادلې يو کانوني/مهم مرکز دی.

د فساد مخنيوی يو کليدي مسئوليت دی چې معمولاً ACAs ته منسوب وي. د فساد مخنيوی يو پېچلی مجاهدت دی. دا په معموله توګه د ډېرو تدبيرونو او يا خو هم د همزمانه يا پرله پسې کړنو د لړۍ څخه جوړ دی کوم چې پکار ده په دقت سره هماهنګ کړای شي تر څو د سازګارۍ او اغېزمنتيا ډاډ يې تر لاسه شي. په دغه ډول تدبيرونو کې کېدای شي د چارواکو د صداقت او رېښتينولۍ ارتقاء او محافظت شامل وي، د قضا او د هغو کسانو په ګډون چې د سياسي ګوندونو په ټموېلولو کې ښکېل دي. د صداقت او رښتينولۍ په ساتنه کې کېدای شي د ګټو د تضاد د رژيم د مديريت په ګډون، په تېره بيا د شتمنيو د ښودلو او د هغوی ثبتولو ته غاړه اېښودل او د عامه چارواکو د ګټو افشاکول، د انتخاب شويو په ګډون شامل وي. په مخنيوونکو تګلارو کې همدارنګه کېدای شي د ځانګړو سکتورونو ژوره ارزونه يا داسې فعاليتونه لکه عامه تدارکات، اداري پروسيجرونه، د عامه ګټو معلوماتو ته لاسرسي او په خصوصي سکتور کې د فساد د احتمالي ګواښونو ارزښت موندنه شامل وي.

د فساد ضد باخبرۍ د کچې په لوړولو او روزنه کې په اساسي توګه د صداقت او رښتينولۍ اړوند وکالت، روزنيز او تعليمي فعاليتونه شامل دي چې ځانګړې ټولنيزې ډلې او سکتورونه په نښه کوي. دا همدارنګه

کېدای شي د مدني ټولنې سازمانونو سره د مشارکت په تاسیسولو کې ښکېلتیا ولري.

د فساد ضد تحقیقات کېدای شي د ACA لپاره تر ډېره یو ستونځمن فعالیت وي، ځکه چې جنایي تحقیقات په نورماله توګه د پولیسو، تحقیقاتي قاضیانو یا د څارنوالۍ د خدمتونو لخوا تر سره کېږي. د عامه مدیرانو د پرېکړو تحقیقات او ارزونه او د دوی لخوا د عامه وجهي صندوقونو چارو اداره کول معمولاً د دننني حسابدارانو او دباندیني مفتشونو پر غاړه ایښودل کېږي. د ACA یو اعمال شوی تحقیقاتي واک کېدای شي د دغو هیأتانو سره د رول او مسئولیت په هیڅ کله نه ختمېدونکو منازعو کې د ټکر سره مخامخ شي. داسې کوم توافق نشته چې آیا باید یو ACA دې داسې واک ولري چې د پولیسو حوزو، د قانوني تعقیب چارواکو یا مالي مفتشینو حوزو ته و رننوځي. خو سره له دې، یو لړ ACA تحقیقاتي واک په بعضو ځانګړو ساحو کې (لکه چیرې چې دوی په مقدماتي توګه د اتباعو د شکایاتو او د عامه چارو د بنسټونو د پرسونل لخوا د افشاګریو قضیې پر غاړه اخلي تر څو چې دا خبره معلومه کړي چې آیا کوم جنایي مورد شته مخکې له دې چې دا قضیه څارنوالانو ته راجع کړي) اعمالوي.

د فساد ضد قانوني تعقیب هم ستونځمن دی که چیرې هغه ACA ته وروسپارل شي، ځکه چې په اصولو کې د عامه ګټو دفاع په یوه جنایي پروسیجر کې د عامه څارنوال مسئولیت دی. د جنایت قربانیان همدارنګه کولای شي د قضا د پیل کولو حق ولري، او دا خبره واضحه نده چې آیا د قضایي پروسیجر د پیل کولو حق یوې ACA ته په یوه جنایي پروسیجر کې ورکول به کوم ارزښت ولري. له بله پلوه، دا به ډېره ګټوره وي چې یوه ACA راښکېله کړو تر څو د یوه احتمالاً فاسد کس په وړاندې تور تعقیب کړو په هغو قضیو کې، چیرې چې څارنوال پرېکړه کړې ده چې قضیه د نابسیا/ ناکافي تحقیق له وجې مرخصه کړي.

# د بریا عاملونه

د ACAs لپاره معیارونه د نړیوالو کنوانسیونونو په واسطه تعیین شوي، په ځانګړي توګه د UNCAC (6 ماده) او د فساد په اړه د اروپا د شورا د جنايي کنوانسیون (20 ماده)، په لاندې ډول دي:

- خپلواکي
- تخصص
- ازمېښت/تجربې
- د سرچینو او پرسونل مناسبه اندازه

خپلواکي درجې لري. یوه ACA کېدای شي د خپلواکۍ د یوې ډېرې لوړې کچې څخه ګټه واخلي او یا ورته ټیټه درجه ورکړله شي، د هغو وظیفو له مخې چې دغې اېجنسۍ ته سپارلې شوې دي. خپلواکي یعني یو قابلیت دی چې هغه وکولای شي په ناپیيلي توګه عمل وکړي او پرته له دباندیني نفوذ، په تېره بیا کله چې خبره د تحقیقاتي فعالیتونو په اړه وي. دا د نور خبرو له جملې څخه، د سیاسي مداخلې او د هر ډول ناضروري فشار په معنا ده. خپلواکي له همدې کبله هغه ارزښت دی چې که چیرې د فساد سره د مبارزې سیاسي لېوالتیا یا کمزورې ده او یا هم هیڅ نشته. که چیرې د ACA مسئولیت دا دی چې تعلیم ورکړي، د باخبرۍ کچه لوړه کړي یا د مخنیوونکو مسئولیتونو یوه محدوده شمېره پر ځای کړي، د ملکي خدمتونو د عمومي مسلکي خودمختارۍ د اړتیا وړ خپلواکۍ درجه به تر یوې اندازې ټیټه وي. دا خبره د تګلارې د تحلیل او تجزیې او د تګلارې د سپارښتنو د وظیفو په اړه هم پرځای ده. هر څومره چې وظیفې د تحقیقاتو د قانون د تنفیذ په لور تکیه کوي، هغومره ډېرې خپلواکۍ ته اړتیا ده.

تخصص په دې معنا دی چې قانون د اېجنسۍ لپاره یو متمرکز شوی ځانګړی قیمومیت ټاکلی او دا چې پرسونل په مسلکي توګه متخصص دی. په ټوله کې پرسونل باید د ټولو اړوندو مهارتونو لرونکي وي، کوم چې د ACA لپاره پکار دي چې خپل قیمومیت  او یا ماموریت پرځای کړي. تخصص ته تر ټولو لومړی د CoE د فساد په اړه د جنايي کنوانسیون (20 ماده) په اساس اړتیا شته؛ د بېلګې په توګه، د قانون د انفاذ تشکلونه لکه د فساد ضد څارنوالان. په پرمخ تللو هېوادونو کې، تخصص ډېر کله شته پرسونل یا واحدونو ته د قانون د انفاذ په موجوده تشکلونو کې د فساد ضد وظایفو ورسپارلو لا لارې تر لاسه کېږي. د ودې په حال او د انتقال په پړاو کې هېوادونو کې، کله چې فساد جدي دی او د دونارانو شکېلتیا ډېره پراخه ده، لېوالتیا پیدې کې شوې ده چې د تخصص د لا ښه ضمانت لپاره د فساد ضد بېل تشکلونه تاسیس کړای شي.

که په عمومي ډول ووایو، د دې لپاره چې دوی یو لړ بریا ولري، د فساد ضد تخصصي هیأتونه/تشکلونه د فساد سره د فعالې مبارزې په مقصد جوړې شوې، په تېره بیا د فساد ضد څارنوالۍ لړ تر لړه په لاندې

ظرفیتونو کې: لومړی، دوی ته پکار ده چې پر جدي جنايي کړنو ټينګار وکړي او تخصص پکې تر لاسه کړي، او جزئي ناچيزه فساد دې د څارنوالۍ معمولي دفترونو ته ورپرېږدي. دوهم، ACA باید د پولیسو د په لوړه کچه متخصصو واحدونو سره په پېچلو اقتصادي او جنايي جرمونو کې په نژدې همکاري سره کار وکړي او ډول ډول اړوندو تجاربو ته دې لاسرسي ولري، په ځانګړې توګه مفتشين او د ماليې د وزارت او يا تفتيشي بنسټونو ته، او همدارنګه کمپيوتري متخصصيونو ته. درېیم، قاضیانو ته پکار ده چې د څارنوالانو معادل تخصصي درجه ولري. څلورم، د ACA او همدارنګه د متخصصو قاضیانو صلاحیت باید په ملي کچه وي او پرته له محدودیتونو ټولې ساحې وپوښي. پينځم، د فساد اړوند جنايي فعالیتونو توضيح بايد د جزا په قانون کې واضحه او نامبهمه وي (لاندې يې ووينئ) او د جنايي قانوني اقداماتو مقررات بايد په منطقي توګه مرتبط وي. شپږم، د فساد ضد متخصصو څارنوالانو د حساب ورکوونې تسلسل، د ټيټې کچې څخه بيا تر لوی څارنوال پورې بايد په عمل کې واضح او اغېزناک وي. د څارنوالانو مسلکي خپلواکي بايد همدارنګه د مقرراتو په مټ په کافي توګه محافظت شوې وي. په پای کې، تحقيقاتي ظرفيتونه او د شواهدو اغېزناکې وسيلې د پټو تحقيقاتو له لارې، د بړغ ثبتولو د وسايلو په مټ د محرمو مکالماتو ضبطول، بانکي حسابونو ته لاسرسي او د شاهدانو د محافظت سالم تدابير لازم الاجرا دي.

که څه هم چې دا نړیوال معيارونه دي چې د ACAs برياليتوب پرې تکيه کوي، د دغو بنسټونو د پايښت ورتيا هيڅ کله تضمين شوې نده. ډېری هېوادونه د سياسي پلوه او نورو لاملونه له کبله د نړیوالو معيارونو په پرځای کولو کې جدی ستونزې لري. د فساد مخنيونه او کنټرول په لوړه کچه پر حکومتي او غير حکومتي تکلارې بهيرونو پر ورتيا ولاړ دي او هدف يې د فساد د وقايعو او ابعادو محدودول دی. هغو بهيرونو ته پکار ده چې د لارښودونکو اصولو او ابزارو د يوه ترکيب څخه کار واخلي او پرې تکيه وکړي. هغه هڅې چې د فساد کنټرول ډېر اغېزمن کړي د ځينو او مخنيوونکو ټوليزو ګډو شېوو ته اړتيا لري، نوښتونو او مهارولو ته، د صداقت او رښتينولۍ دننې او دباندينې تحمیل شويو معيارونو ته ، پروسيجري، بنسټيز، جوړښتي او روزنيزو تدابيرو ته، يو له بل سره اړوند د کنټرول ميکانيزمونو ته، او همدارنګه انفاذي قوانينو ته، اخلاقي اصولو او اخلاقي لارښودنو ته اړتيا لري.

د نړيوالو عامه او خصوصي معيارونو د تعيينولو سازمانونو ډېره هڅه کړې ده چې دا اصول او ابزار تسهيل کړي او همغاړي يې کړي تر څو وکولای شي د اروپا او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د ګډې مساعۍ همرغي جوړه کړي. خو بيا هم سره لدې ، د ټولو لوړ ذکر شويو عناصرو په شتون کې د صداقت او رښتينولۍ د يوه سالم سيستم سره سره، يوه ملي سياسي لېوالتيا او حکومتي هوډ/ژمنتيا اړينه ده. د تل په شان، په رأس کې يوه ښه او هوډمنه رهبري حياتي ده.

د ACA تر شا اصلي منطق کېدای شي راتلونکې بريا وټاکي. ډېر لاملونه شته چې ولې حکومت پرېکړه کوي چې يوه ACA جوړه کړي. د هېوادونو يو د پام وړ شمېره ، معمولاً د OECD د غړيتوب بهر، تر نړیوال او دننې مرکب فشار لاندې ACAs جوړې کړې دي چې د UNCAC د 6 ماده تطبيق کړي.

*د UNCAC 6 ماده: د فساد مخنيوونکی تشکل او يا مخنيوونکي تشکلونه/هيأتونه*

1. هر دولتی اړخ باید د قانوني سیستم د بنسټیزو اصولو مطابق، د تشکل یا تشکلونو د موجوديت څخه ډاډ حاصل کړي، او څرنګه چې يې مناسب بللای شي، د دغو ابزارو په کارولو سره دې د فساد مخنيوی وکړي:

(a) د دې کنوانسيون په 6 ماده کې د ذکر شويو تګلارو پلي کول او، چيرې چې مناسب ګڼل کېږي، د دغو تګلارو نظارت او پلي کول.

(b) د فساد د مخنيوي په اړه د پوهاوي ډېرول او خپرول.

2. هر دولتي اړخ بايد د دې مادې په 1 پاراګراف کې

ذکر شویو تشکل او تشکلونو ته لازمه خپلواکي ورکړي، د خپل قانوني سیستم د بنسټیزو اصولو مطابق، تر څو دوي په دې وتوانوي چې خپلې وظیفې په اغېزناکه توګه او د هر ډول نفوذ څخه په ازاده توګه اجرا کړي.

د اړتیا وړ مادي سرچینې او تخصصي پرسونل، او همدارنګه هغه روزنه چې دغه پرسونل کېدای شي ورته اړتیا ولري تر څو خپلې دندې تر سره کړي، باید برابر کړای شي.

3. هر دولتي اړخ باید د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته د هغو مقامونو او یا مقاماتو نوم او پته ورکړي، کوم چې کېدای شي د فساد د مخنیوي لپاره د نورو دولتي مراجعو سره د ځانګړو تدابیرو په انکشاف کې مرسته وکړي.

د UNCAC د لوړ ذکر شویو موادو پلي کېدل کېدای شي ډول ډول انګېزې ولري لکه د حکومت اړتیا چې د فساد اړوند رسواییو ته ځواب ورکړي، پر عامه بنسټونو د ویسا بحران ته، او یا پر سیاسي طبقې د عامه اعتماد کمېدلو ته.

هر مورد چې وي، دا مهمه ده چې د فساد ضد هڅو ته د حکومتولۍ په یوه پراخ مفهوم کې وکتل شي – د حکومتولۍ د اصلاح په ګډون—او هم دا چې مسئولیت د هغه چا پر غاړه وي چې د پرېکړې کوونې قانوني مشروعیت او ظرفیت ولري تر څو وکولای شي د عامه صداقت او رښتینولۍ د چوکاټ د غښتلي کولو بهیر مدیریت کړای شي. دا ډول مشروعیت یوازې د ممکنه ستراتیژیو او اصلاحاتو له لارې تر لاسه کېدلای شي، په داسې حال کې چې د هېوادونو د حکومتونو لپاره، ستونزه په دې که ده چې د غښتلو سیمه ییزو کاروباري خلکو، سیاستوالو، یا د هغو جنایي شبکو چې د فساد اصلي او تر ټولو غښتلي حوزې جوړوي او د شته حالت په ساتلو کې خپلې موجوده ګټې وینې، د بېګانه کولو احتمالي ګواښ شته.

په داسې حال کې چې په پایله کې حکومت د فساد ضد تګلارو مسئول ګڼل کېږي ، د فساد ضد سیستمي اصلاح د قانون جوړونې او پلي کولو هر اړخیزه او ټول شموله حمایت کوي. د ګڼ شمېر سهم لرونکو عملي سلامشورې د یوې موخې سره چې د مقرراتو د مسودو په جوړولو کې مرسته وکړي، د بریالیتوب لپاره اړین دي. مفهوم مهم دی، دا پدې معنا چې بېلابېل هېوادونه د تګلارو بېلابېل مخلوط او د هېواد سفارشي قانوني بنسټیز ترکیب ته اړتیا لري. اصلاحات باید پدې پوه شي چې د عامه حکومتولۍ په ساحه کې د اندېښنې وړ بېلابېلې مسئلې – د ظرفیت او وړتیا انکشاف، د هماهنګۍ ستونزې، د پایلو د استقامت ټاکل، د عامه خلکو ګډون، بنسټیزه ویسا اوداسې نور – همدارنګه د فساد ضد هڅو یوه برخه ده او پکار ده چې په یوه سیستماتیکه توګه ورته رسېدنه وشي.

بریا همدارنګه په هغو انتظاراتو پورې اړه لري چې له پیل څخه له ACA څخه غوښتل کېږي. په زیاته ځانګړې توګه، یوه ACA نشي کولای چې د ناشایسته او فاسد حکومت ځایناستې واوسي او نه هم د هغه د ناکامیو درملنه کولای شي. یوه ACA په تنهایۍ سره نشي کولای چې د نورو بنسټونو د اعتبار د نشتون جبران وکړي، په ځانګړې توګه د حکومت، د عامه چارو ادارې او د قضا. څرنګه چې Unsworth یې په ګوته کوي، فساد په مخ پر زیاتېدونکې توګه د کمزورې حکومتولۍ نتیجه ده او له هغې سره مبارزه کول په ناپایه ډول پر بنسټیزو ماډلونو ټینګار کوي، د دې پر ځای چې پر سیاسي بهیرونه یې وکړي.[3] د ACA څخه د تر حد زیاتو انتظاراتو لرل پرته د اصلاحاتو د پلي کولو چې د هېواد حکومتولۍ په ټوله کې ښه کړای شي، په تېره بیا د ټولنې سیاسي بهیرونه ، نامناسب دي او کېدای شي زیان راوړوونکي وي.

3 Unsworth, Sue. 2007; "Rethinking Governance to Fight Corruption". *U4 Brief* 2007:7. Available at: http://www.u4.no/publications/rethinking-governance-to-fight-corruption/

په هغه طریقه چې یوه ACA پر خپل سیاسي چاپېریال باندې متقابلاً اغېز اچوي همدارنګه د بریا یو عامل ده. په دې اړه، د پرتګال د ACA قضیه (Alta Autoridade Contra a Corrupção) توضیح کوونکې ده. د de Sousa له قوله، د پرتګالي ACA مړینه/ زوال د هغې د عیني کړنې سره په تړاو کې نه وه، کوم چې د ښه شهرت خاونده وه، بلکې د هغه تاوتریخوالي له کبله وه چې د دې اېجنسۍ او د سیاسي طبقې تر مینځ وو.[4] د اېجنسۍ کار ډېر کله د سیاستوالو د ګټو لخوا د ننګونو سره مخامخ شوی وو. د پرتګال اېجنسي شاید د ACA لومړنۍ اېجنسي وه چې په لوېدیځې نړۍ کې راپیداشوله. دا اېجنسي په 1983 کال کې د حکومت په یوه فرمان سره د سیاسي فشار د یوې برخې په توګه د عامه خلکو نارضایتي د حمایت ډکو سیاسي ګوندونو پر وړاندې تاسیس شوله. د هغې دا وظیفه نه وه چې په سیاسي ګوندونو کې د فساد په هکله څېړنې وکړي. په 1986 کال کې هغې ته تحقیقاتي واک ورکړای شو او د سیاسي حاکمې دستګاه د ګټو په تهدیدولو یې پیل وکړ. هغه په 1992 کال کې د پارلمان د یوه فرمان له مخې پرته له هیڅ ډول بحث د هغې د فعالیت په اړه فسخه شوله، فقط کله چې نورو لوېدیځو هېوادونو د فساد ضد اېجنسیو د جوړلو په فکر کې ول.

Johnsøn et al. د بریالیتوب پر عواملو شته ادبیات په لاندې پینځو برخو وېشي:

1. په قراینو پورې اړوند عوامل: د ACAs د بریالیتوب درجه باید په یوه مفهوم کې وکتله شي. سازماني فرهنګ، د ملي ودې کچې، او سیاسي ټیکاو د دغو تشکلونو لپاره شاتني سیمې ټاکې. د دې خبرې انتظار به په سختۍ سره وشي چې ACA به یوه داسې هېواد کې په مناسبه توګه فعالیت وکړي چېرې چې حکومتولي جدي ستونزې ولري.

2. قانوني چوکاټ او د تګلارې عوامل: ACAs د ډول ډول محدودیتونو سره په خپل قیمومیت کې د تګلارو د غوراوي په پایله کې د قانون جوړونې په بهیر کې مخامخ کېږي، کوم چې د هغوی حقوقي موقف، بنسټیز موقعیت، ځانګړی واک، د وړتیاوو او معلوماتو شریکول، مالي خپلواکي، د راپور ورکولو پروسیجرونه او داسې نور ، ټاکي. د دوی له قانون سره سم، ټولې ACAs په یوه معنا خپلواکې دي. په عمل کې، خو بیا هم، د عملیاتي خپلواکۍ درجه په د پام وړ اندازه له یوې څخه تر بلې اېجنسۍ پورې بېله ده. په ډېرو مواردو کې ، ACAs د عملیاتي او مالي پلوه تش په نامه خپلواکې دي.

3. سازماني عوامل: د اجرااتو ټیټه کچه همدارنګه د ناکافي ګومارنې او حسابورکوونې د پروسیجرونو او ناکافي او یا خو د مدیریت د بند و بس د نشتون څخه راپیداکېږي، کوم چې د دې سازمان ظرفیت تعیینوي چې فعالیت وکړي او د خپل صلاحیت سره سم خپل اجراات تر سره کړي. د ACA تخنیکي ظرفیت کېدای شي همدارنګه د نورو مقاماتو سره د نااغېزمنو همکاریو په وجه د خنډ سره مخ شي. د فاسدو کړنو او یا د احتمالی ګواښ د ساحو د معلوماتو په هکله د نورو تشکلاتو او یا اېجنسیو او هم نورو د عامه چارو بنسټونو څخه د شواهدو په لاسته راوړلو کې ستونزې د ACAs اغېزمنتیا کموي. ACAs همدارنګه ډېر کله داسې صلاحیت نلري چې ډاډ تر لاسه کړي چې د دوی سپارښتنې د نورو عامه چارو بنسټونو لخوا پلي

4 De Sousa, Luís. 2009; “Does Performance Matter to Institutional Survival? The Method and Politics of Performance Measurement for Anti-corruption Agencies”. *EUI Working Paper RSCAS 2009/9*. Available at: http://ancorage-net.org/content/documents/does%20performance%20matter%20to%20institutional%20survival.pdf

کېږي. په ډېرېو مواردو کې، د بنسټیزو خپلمنځي همکاریو قانوني چوکاټ له پیل څخه په سمه توګه نه وي تیار شوی. سربېره پر دې، ACAs ډېر کله د زښت زیات پراخ قیمومیت په ترسره کولو کې خپل ځان ډېر پراخ غځولی بولي. له هغوی څخه چې د ګڼ شمېر موخو اېجنسي ګاني دي ډېر کله انتظار کېږي چې د فساد سره چال چلند وکړي ( د وېرې پر بنسټ ولاړه وظیفه)، په داسې حال کې چې د یوه مشورتي هیأت په توګه د مخنیوي په برخه کې کار کوي ( د اعتماد پر بنسټ ولاړه وظیفه).

4. مالي عوامل: د کافي مالي سرچینو نشتون هر سازمان ته یو دوامداره ګواښ دی. په داسې حال کې دا لازمي نده چې ډېرې لویې بودجې د اغېزمنتیا لویه کچه تولیدوي، دا مهمه ده چې پوه شو چې یو لړ ACAs تر مقیدو مالي شرایطو لاندې کار کوي کوم چې کولای شي په جدي توګه د دوی موخو ته رسېدل له ګواښ سره مخامخ کړي.

5. د رهبرۍ او ازمېښت عوامل: د ACAs د پرسونل انفرادي مهارتونه، تجربې، او پوهه د هغوی د بریالیتوب لپاره بنسټیز دي. د ظرفیت مسئلې هم د ACAs تخنیکي ظرفیتونه او هم د هغوی ټولټال وظیفه یي ظرفیتونو سره تړاو لري (لکه رهبري، د بشري سرچینو مدیریت، پلان جوړونه، او سازماني زده کړه). د ACAs د برتریو څخه یوه دا ده چې دوی د قانون د دودیزو نافذینو په پرتله لوړ ظرفیت لري چې پر پوهې ولاړ یوه شېوه خپله کړي چې د احتمالي ګواښونو او نورو تخصصي مطالعاتو له لارې د فساد پر وړاندې مبارزه وکړي. په اصولو کې، دغو تشکلونو / هیأتونو ته باید د کارپوهانو یوه ډله ورکړله شي، په داسې حال کې چې په عین وخت کې دوی کولای شي د نورو نظارتي او د قانوني تنظیم واحدونو د پوهې او تجربو څخه ګټه واخلي او خپلې هغې په تبادله کولو سره شریکې کړي. په عمل کې ، خو بیا هم، یو لړ شمېر د ACAs بنسټونو دننه او د پوهې تولیدوونکو ظرفیتونو ته لاسرسي لري.[5]

د بریالیتوب د عواملو د یوه زیاتي هغه به د ACAs همکاري د فساد ضد سهم لرونکو سره وي، هم په دننه کې او هم په نړیواله کچه، د رسنیو، سترو NGOs ان جي او ګانو، پوهنتونونو او د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د نورو ACAs په ګډون. دغه ډول یوه همکاري ګټوره ده چې معلومات راټول کړای شي، پوهې ته وده ورکړای شي، تخنیکي او سیاسي ملاتړ تر لاسه کړای شي او چې د فساد په اړه په دننه او بهر کې د ځانګړو تحقیقاتو په اړه د مساعي د تشریک واک تر لاسه شي. د دې لپاره چې دا 'ښې کړنې' د نړیوالو او دننني شبکو له لارې خپرې کړای شي، د ACAs رول او موقف ته یو غښتلی تایید/ مننه تر لاسه کېدلای شي.

د حساب ورکوونې کافي میکانیزمونه مرسته کوي چې د یوې ACA د مشروعیت او اعتبار څخه ډاډ تر لاسه شي، او له همدې کبله د هغې د بریالیتوب شونتیا زیاته شي. په واقعیت سره، خو بیا هم کېدای شي چې یوه ACA د کاغذ پر مخ خودمختاره او خپلواکه وي، هغه باید د هېواد د تفتیش او انډول په سیستم کې مدغمه کړای شي. څرنګه چې مو مخکې وویل، خپلواکي درجې لري. د ACAs په هکله نړیوال معیارونه، په ځانګړې توګه د UNCAC او د CoE کنوانسیون د جنایي قانون په هکله، د خپلواکۍ د ورتې کچې تقاضا نه کوي، څرنګه چې یې د قاضیانو څخه کوي. د OECD له قوله، د حساب ورکوونې شکلونه باید د ACA د تخصص ، بنسټیز موقعیت، قیمومیت، وظیفې او واک د نورو بنسټونو او افرادو په وړاندې سفارشي کړای شي.[6]

په ټول کې په حساب ورکونه کې باید عامه خلکو ته د حسابوورکوونې بعد شامل وي تر څو د اېجنسۍ په وړاندې د سیاسي انګېزو لرونکو بریدونو په حالت کې د اولس ملاتړ تر لاسه کړای شي. ACA باید د شکایاتو داسې میکانیزمونو ته وده ورکړي چې له

5 Johnsøn, Jesper et al. 2011; "How to monitor and evaluate anti-corruption agencies: Guidelines for agencies, donors, and evaluators". *U4 Issue 2011:8*. Available at: http://www.cmi.no/publications/file/4171-how-to-monitor-and-evaluate-anti-corruption.pdf
6 OECD. 2013.

لارې يې اتباع وکولای شي د ورک نومۍ د قانون تر محافظت لاندې د فساد پر وړاندې د مبارزې په لړ کې رپوټونه ورکړي. دا په اثبات رسېدلې چې ډېره یوه ښه لاره ده چې اتباع د فساد د مخنیوي په هڅو کې ښکېل کړای شي. د فساد ورک نومي رپوټونه د حد اقل مقدماتي تحقيقاتو ته اړتیا لري چې د ACA په مټ تر سره شي تر څو تر لاسه شوي معلومات د مدارکو سره ثابت کړای شي او تایید کړای شي، مخکې له دې چې هغه قضیه څارنوال یا پولیسو ته راجع شي، د هغه په غیر صورت کې، د ناثابت شویو په توګه دې لیرې کړای شي.

څرنګه چې د ټولو عامه تشکلونو سره پېښېږي، د یوې ACA بریا او ناکامۍ معلومول یو اسانه کار ندی.[7] داسې وسوسه شته چې یوازې دې د مدیریت شاخصونه وکارول شي چې اجراات اندازه کړای شي. دا کېدای شي مرسته وکړي خو د فساد ضد هڅو سیاسي ابعاد د مدیریت د چوکاټ له لارې اندازه کېدای نشي. سر بېره پر دې، څرنګه چې مو مخکې ولیدل، د یوې ACA د پایښت وړتیا نه په لازمي توګه او نه هم په عمومي توګه د هغې په اجرااتو پورې اړه لري. د دې لپاره چې اساسي پایلې تر لاسه شي، دا باید د فساد ضد پراخو سیاسي هڅو کې مدغمه کړای شي.

7 Johnsøn, Jesper et al. 2011.

# د فساد ضد اېجنسیو د ماډلونو ډولبندي

د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د فساد ضد بنسټونو د ګڼ شمېروالي او د دوی د ډول ډول وظیفو او اجرااتو په نظر کې نیولو سره دا ډېره پېچلې ده چې ټول عمده وظیفه یې او جوړښتي شکلونه یې تشخیص کړو. د OECD له قوله، هر نوی بنسټ باید چې د ملي ځانګړي مفهوم سره عیار کړای شي، د ډول ډول فرهنګي، حقوقي او اداري شرایطو په پام کې نیولو سره.[8] د 'ښې حکومتولۍ' او د کار وړ ماډلونو تشخیصول د فساد ضد بنسټونو په تاسیسولو کې شوني دي. خو بیا هم، داسې قطعي شواهد نشته چې وښیي چې کوم ماډل د فساد په مخنیوي او ورسره په چال چلند کې تر ټولو اغېزناک دی.

د فساد پر وړاندې د مبارزې د تخصصي بېلابېلو بنسټونو یوه پرتله ییزه بیاکتنه کېدای شي د هغوی د اصلي وظایفو له مخه په لاندې ډول خلاصه کړای شي:[9]

- د فساد ضد ګڼ موخیزه اېجنسي
- د فساد ضد قانون د انفاذ تخصصي بنسټونه
- د فساد ضد تکلارو او مخنیوي په اړه اېجنسۍ

8 OECD, 2013.
9 Ibid.

*1. د فساد ضد ګڼ موخیزه اېجنسي*

دا ماډل د یوې انفرادي اېجنسۍ د شېوې د تر ټولو مخکښو بېلګو د یوه ماډل استازیتوب کوي چې پر درېوو کلیدي پایو ولاړ دي: (a) تحقیقات، (b) مخنیوی او (c) عامه خلکو ته رسېدنه او تعلیم او تربیه. خو بیا هم، په ډېریو مواردو کې قانوني تعقیب یوه بېله وظیفه پاتېږي تر څو چې یې پوره خپلواکي وساتله شي، چې هغه په سیستم کې دننه تفتیش او بیلانس/ انډول دي. ګڼ موخیزه اېجنسۍ، له همدې کبله، باید پراخ واک اداره کړي او هم په قانوني او هم عملي لحاظ خپلواکي واوسي.

دغه ډول یو ماډل د هانګ کانګ د فساد پر وړاندې د خپلواک کمیسیون او د سینګاپور د فاسدو کړنو د تحقیق بیورو پر بېلګو په معموله توګه ښودل شوی دی. هغه د ورته اېجنسیو په جوړولو په ټولو وچو کې خلکو ته الهام ورکړ، د استرالیا په نوي شمالي ویلز کې د فساد پر وړاندې د خپلواک کمیسیون؛ په بوتسوانا کې د د فساد او اقتصادي جرمونو ریاست؛ په لیتوانیا کې د ځانګړو تحقیقاتو خدمتونه؛ په لاتویا کې د فساد د مخنیوي او ورسره د مبارزې بیورو؛ په پولنډ کې د فساد ضد مرکزي بیورو ؛ او په اوګندا کې د حکومت د عمومي تفتیش رئیس په ګډون. یو شمېر نورې اېجنسۍ، د بېلګې په توګه په کوریا کې ، تایلند کې، ارجنټاین او اکوادور کې، د هانګ کانګ او سینګاپور عناصر خپل کړل، په داسې حال کې چې دا دوه ماډله یې په لږ سختۍ

سره تعقیبول.

*2. د قانون د نافذولو نمونوي بنسټونه*

د قانون د نافذولو د فساد ضد تخصص کېدای شي په کشف، تحقیق یا قانوني تعقیب هیأتونو کې پلي شي. کله نا کله، د قانون د نافذولو په ماډل کې د مخنیوي، هماهنګۍ او څېړنې وظیفې هم ګډې وي. دا ماډل همدارنګه کېدای شي د فساد د کشف، تحقیق او قانوني تعقیب د ترکیبولو څخه د قانون انفاذ د نفوذ په یوه یکړي واحد د بدلېدلو په پایله کې لاسته راشي. دا شاید تر ټولو معمول ماډل د OECD په هېوادونو کې وي. دا هغه ماډل دی د کوم یوه پر بنسټ چې د ناروې د ملي مقاماتو د اقتصادي او چاپېریال اړوندو جرایمو تحقیقات او قانوني تعقیب (Økokrim) ولاړ دي، همدارنګه په بلجیم کې د فساد د څېلو مرکزي دفتر؛ په هسپانیې کې د قاضی القضات ځانګړی دفتر د هغو اقتصادي دفترونو د څېلو لپاره چې د فساد سره اړیکه لري؛ په کرویشیا کې د فساد او سازمان میندونکو جرایمو د مخنیوي دفتر؛ د رومانیا د فساد ضد ملي ریاست؛ او په هنګري کې د عامه قانوني تعقیب د مرکزي تحقیقاتو دفتر. دا ماډل همدارنګه کېدلای شي د دنني تحقیقاتو د تشکلونو لپاره د محدود صلاحیت سره چې فساد کشف او تحقیقات یې د قانون د انفاذ په تشکلونو کې وکارول شي. د دغه راز هیأتونو/ تشکلونو بېلګې په جرمني کې د داخلي تحقیقاتو ریاست؛ په برتانیې کې د پولیسو/فساد ضد قوماندانې او په البانیا کې د ملي پولیسو د داخلي کنټرول خدمتونه دي.

*3. مخنیوونکي بنسټونه*

د مخنیوونکي بنسټ ماډل هغه شېوه ده چې د ACAs ډېری یې پر بنسټ جوړې دي. دا ماډل په خپل ځان کې یو خورا نامتجانس جوړښت رانغاړي. تقریباً، درې کټګورۍ کېدای شي ترې راوباسو:

a) د *فساد ضد هماهنګ کوونکي شورا ګانې*: دغه ډول تشکلونه معمولاً جوړېږي چې په یوه هېواد کې د فساد ضد هڅو مشري پر غاړه واخلي، په ځانګړې توګه د فساد ضد ستراتیژۍ وده، پلي کول او نظارت. د فساد ضد شوراګانې (کمیسیونونه او کمیټې) د حکومت د مسئولو اېجنیسو او وزارتونو، د اجرایوي ارګان استازو، د قدرت د مقننه او قضائیه څانګو څخه جوړې دي، او همدارنګه کېدای شي د مدني ټولنې لوبګر هم پکې شکېل وي. د فساد ضد شوراګانې معمولاً تلپاتې/دایمي بنسټونه ندي خو د منظمو غونډو له لارې فعالیت کوي. دوی کېدای شي د دایمي دارالانشا ګانو لخوا ملاتړ شي. د بېلګې په توګه کولای شو په ګرجستان کې د فساد ضد تګلارې د هماهنګۍ شورا راواخلو کومه چې د عدلیې په وزارت کې د دارالانشاء لخوا یې حمایت کېږي؛ په آذربایجان کې د فساد سره د مبارزې کمیسیون؛ په البانیا کې د فساد پر وړاندې د وزارت په دننه کې کمیسیون د هغه د دارالانشاء سره د وزیرانو په شورا کې. د لوړې کچې د فساد ضد شوراګانې همدارنګه په تاجکستان، اوکراین او روسیې کې شتون لري.

b) د *فساد مخنیوونکي تشکلونه*: دا بنسټونه همدارنګه د فساد د مخنیوي د ښکاره موخو لپاره جوړ شوي، خو دوی تلپاتي/ دایمي دي او پراخ قیمومیت/اختیارات لري. مخنیوونکي تشکلونه همدارنګه د فساد ضد ستراتیژیو هماهنګي پر غاړه لري خو نورې دندې هم لري ، لکه د عامه چارو په بنسټونو او سکتورونو کې د فساد د احتمالي ګواښونو او د صداقت او رښتینولۍ د پلانونو ارزونه؛ د فساد ضد باخبرۍ د کچې لوړول او تعلیم او تربیه؛ د ګټو د تضاد مخنیوی؛ د شتمنیو اعلانول؛ د سیاسي ګوندونو تمویلول، لابي کول/ د نفوذ اعمالول؛ د حقوقي قوانینو د فساد ضد ارزونه. د دغه ماډل مثالونه د فساد د مخنیوي کمیسیون(سلوانیا)؛ د فساد ضد نوښتونو ریاست (مونټینګرو)؛ د فساد ضد اېجنسي (سربیا)؛ د فساد د مخنیوي لپاره مرکزي سرویس(فرانسه)؛ د فساد د مخنیوي لپاره مرکزي سرویس (ICPC مراکو)؛ او تر یوه بریده همدارنګه د فساد پر وړاندې د مبارزې کمیسیون (اذربایجان).

c) *هغه عامه بنسټونه چې د فساد په مخنیوي کې مرسته کوي او په روښانه توګه ورته 'د فساد ضد بنسټونه' نه ویل کېږي*: یو لړ هېوادونو فساد ته نژدې اړوند وقف شوي هیأتونه جوړ کړي دي، لکه د ګټو د تضاد مخنیوی، اخلاق، صداقت او رښتینولي او شتمنیو د اعلانولو کنټرول په عامه اداري او یا پارلمان کې. په بېلګو کې یې په رومانیا کې د ملي صداقت او ارښتینولۍ اېجنسي؛ په هالنډ کې د ملي صداقت او رښتینولۍ دفتر؛ په متحده ایالاتو کې د حکومتي اخلاقو دفتر؛ په لیتوانیا کې د رسمي اخلاقو مشر کمیسیون؛ په برتانیې کې په اولسي جرګې کې د معیارونو لپاره پارلماني کمیشنر؛ په البانیا کې د شتمنیو د اعلانولو او تفتیش عالي ریاست؛ او په ایتالیا کې د ارزښت موندنې، شفافیت او صداقت او رښتینولۍ خپلواک کمیسیون په عامه اداره کې، او یو لړ شمېر نور شامل دي.

سربېره پر دې، ډېر شته دولتي بنسټونه د فساد په مخنیوي کې د دوی د غوره شویو مسئولیتونو په توګه مرسته کوي. په دغو کې د دولتي تفتیش بنسټونه شامل دي (د بېلګې په توګه، په برازیل کې د تفتیش د عمومي رئیس دفتر) یا هغه بنسټونه چې د عامه تدارکاتو دنده پر غاړه لري (د مثال په توګه، په ناروې کې د عامه تدارکاتو د شکایتونو هیأت). د تفتیش دننني او دباندیني عامه بنسټونه، د مالیې مقامات او ورته د کنټرول عامه تشکلونه هم کولای شي د فساد په مخنیوي او کشفولو کې یو نقش و لوبوي. په یو لړ هېوادونو کې د ټولټاکنو مرکزي کمیسیون د مقرراتو په پلي کولو کې د سیاسي ګوندونو او انتخاباتي کمپاین په تمویلولو کې نقش لوبوي، د بېلګې په توګه، په برتانیې کې د ټولټاکنو کمیسیون. په یو زیات شمېر هېوادونو کې د فساد د مخنیوي لپاره چې شرکتونه پکې ښکېل ول، د خلګو سوداګریز بڼغ اورېدونکی (د خلګو د شکایاتو اورېدونکی) ارګان تاسیس شوی دی، د مثال په توګه په روسیه او ګرجستان کې.

پولیس او د ملکي خدمتونو کمیسیونونه په عامه چارو خدمتونو کې د فساد په مخنیوي کې یو کلیدي رول لوبوي. دوی همدارنګه کولای شي د عامه خدمتونو کارکوونکو ته د اخلاقي معیارونو او/ یا د دوی د شتمنیو اظهانامو ټولولو او تاییدولو کې سلامشورې او روزنه برابرې کړي. په بېلګې کې یې په ترکیې کې د اخلاقو شورا د عامه خدمتونو لپاره؛ د ایستونیا د مالیې وزارت کې دننه د عامه اداري عامه خدمتونو دیپارټمنت؛ او په اتریش کې فدرالي صدراعضمي شامل دي. او په پای کې، د صداقت او رښتینولۍ / اخلاقو دننني واحدونه په وزارتونو او دولتي تشکلونو کې د دغو تشکلونو دننه چې دوی یې برخې دي، د فساد ضد او اخلاقي قواعدو انفاذ ترویجوي.

د OECD د لوړ ذکر شوي دسته بندۍ وړاندې، د Heilbrunn د هغه وخت د فساد ضد پراخوونکي کميسيونونه په لاندیني څلورو ډولونو وېشلي ول:

- پراخ ټولیز ماډل، د هانګ کانګ د ICAC(د فساد پر وړاندې خپلواک کمیسیون) د بېلګې پسې؛
- تحقیقاتي ماډل، د سینګاپور د CPIB (د فاسدو کړنو د تحقیقاتو بیورو) د بېلګې پسې؛
- پارلماني ماډل، د استرالیا د نوي جنوبي ویلز ICAC د بېلګې پسې؛
- ګڼ-اېجنسیز ماډل، د متحده ایالتونو د حکومتي اخلاقو دفتر (OGE) د بېلګې پسې.[10]

په لنډه توګه، د دغو څلورو ماډلونو بنیادي خصوصیات په لاندې ډول دي:

د هانکانګ په پراخ ټولیز ماډل کې کمیسیون د تحقیقاتو یو ترکیبي جزء لري، یو بل د مخنیونې، او بیا یو بل د ارتباطاتو او باخبرۍ د کچې د لوړولو هغه لري. وروسته تر خپل جوړېښت په 1974 کال کې، د هانګ کانګ ICAC په بنسټیزه سیمه کې دننه خپل په تاسیسېدلو کې له ستونزو سره مخامخ شو. اتباعو ترې کرکه کوله. نن ورځ، ډېرى کارپوهان هغه په نړۍ کې تر ټولو بریالی کمیسیون بولي.

په سینګاپوري تحقیقاتي ماډل کې، د غه بیورو په 1970 کلونو کې خپل بیاجوړونې وروسته پر تحقیقاتو او د قانون پر پلي کولو تمرکز کوي. هڅو ته یې داسې استقامت ورکړل شوی چې د پانګې اچونې یوه مناسبه فضا جوړه کړای شي. دغه بیورو د مراتبو یوه سخت نیوونکې سلسله لري چې د اولس مشر څخه بیا تر ټیټې کچې، تر دې ټکي رسي چې ډېرى لیدونکي د شته نیم- واک طلبانه/ مستبدانه سیاسي رژیم په سترګه ورته ګوري.

د استرالیا د نوي جنوبي ویلس ICAC ماډل هم په عامه او هم په خصوصي سکتورنو کې پر مخنیوي ټینګار کوي. ICAC متقاعد دی چې دا بهتره ده چې د فساد څخه مخنیوی وشي، تر دې چې د هغه د اغېزو درملنه وشي او مرتکبینو ته یې سزا ورکړل شي، او په مدیریت کې تر کارایۍ ډېر مهم دی. ICAC د کمیشنر لخوا اداره کېږي. ICAC د دواړو جرګو پارلماني کمېټو او د عملیاتو د بیاکتنې کمېټې ته ځواب ورکوونکی دی/ رپوټ ورکوي. د ICAC پالماني نظارت د کمېټې سره په ارتباط کې د فساد د ادعا شویو پېښو تحقیقات او تحلیل او تجزیې تر سره کوي. داسې غور کېږي چې استرالیایي ICAC په استرالیا کې د صداقت او رښتینولۍ د یوه غښتلي فرهنګ په جوړولو کې مرسته کړې ده.

10 Heilbrunn, John R. 2004; *Anti-corruption Commissions: Panacea or Real Medicine to Fight Corruption?* Washington: World Bank Institute. Available at: http://siteresources.worldbank.org/WBI/Resources/wbi37234Heilbrunn.pdf.

د متحده ایالاتو ماډل د یو ګڼ شمېر د بېلابېلو ګټو خپلواکو مرتبطو اېجنسیو د همزیستۍ پر اساس ، په عامه سکتور کې د فساد ضد او د صداقت او رښتینولۍ چارو تحقیقات کوي، مخنیوی یې کوي او تعلیم او تربیه یې تر سره کوي. د حکومت د اخلاقي چارو دفتر (OGE) چې په 1978 کال کې تاسیس شو، د ګڼ اېجنسیزو سیمې یو ترکیبي جزء دی. هغه پر مخنیوي او تعلیم او تربیې باندې ټینګار کوي، په ځانګړې توګه د ګټو د تضاد څخه ډډه کولو او د اخلاقي معیارونو پر ترویجولو، په داسې حال کې چې د تحقیقاتي اېجنسیو سره په عین وخت کې همکاري کوي. د 1989 کال راپدېخوا، دا یو خودمختاره دفتر دی چې اولس مشر او کانګرس ته رپوټ وکوي.

# د ځپلو او مخنیوي تر مینځ معما

د دي مقالې په اوږدو کې مورږ ولیدل چې د فساد ضد هڅې په بېلابېلو هېوادونو، فرهنګونو، او ماډلونو کې ډول ډول دي، همدارنګه د فساد د عمل پر ځپلو د دي پر ځای چې يې مخنیوي وشي تر مینځ پر ټینګار او د صداقت او رښتینولۍ پر ترویج تاکید شوی دی. دا روښانه ده چې، دواړې طریقې لازمي دي او باید په همزمانه توګه و کارولې شي. د OECD په ډلبندیو کې چې لوړ ولیدل شول، د قانون د انفاذ د شېوې او د مخنیوي د شېوې تر مینځ يو په روښانه توګه د وېش کرښه لیدله کېږي. دغه ډلبندي په روښانه توګه د ملي پالیسۍ د غوراوېو / انتخابولو تر مینځ توپیر راولي.

هغه هېوادونه چې تقریباً په منحصره توګه د جزا پر قانون او جنایي عدالت پر ابزارو تکیه کوي تر څو چې د فساد سره چال چلند وکړي، تمایل لري چې د فساد زیاته درک شوې اندازه ولري، د هغو هېوادونو په پرتله چې د فساد د مخنیوي پر تګلارو د پام وړ منابع او هڅې وقفوي.

خو بیاهم، د جزا قانون، که څه هم چې لازم الاجرا دی، په خپل ذات کې ناکافي دی او د فساد پر وړاندې مبارزه کې نه ګوښه کېدونې محدودیتونه لري. په لوېدیځ دود او دستور کې، د بې ګناهۍ فرض – له نېکه مرغه – د جنایي قانون یو بنسټیز اصل دی، او په ډېرو هېوادونو کې دې اصل ته د قانون مطابق موقف ورکړل شوی دی. هیڅ څوک په یوه جرم نه محکومېږي، مګر داچې دی او یا دا د هر ډول منطقي شک پرته مقصر وبللی شي، څرنګه چې د هغو شواهدو لخوا چې څارنوال وړاندې کړې وي، پرې قضاوت وشي. دغه شواهد باید روښانه او او متقاعد کوونکي وي څکه چې د محکمې جنایي جریان کېدای شي د بند په یوې مودې پای ته ورسېږي – د ازادۍ د بنسټیز حق د لاسه ورکولو – او د متخلف نامه او ملکیت ته جدي زیان ورسوي. د یوه جنایي محکمې پایلې د یوه ملکي او یا اداري بهیر په پرتله ډېر شدیدې دي، چیرې چې د یوې اندازه پیسو د ورکولو الزام (یا جریمې) د تخلف لپاره معموله درملنه ده. د بې ګناهۍ دغه لومړنی فرض په کلکه د عدالت په پوهاوي کې د انصاف په توګه په دایمي ډول ځای پر ځای شوی دی، په ځانګړې توګه د عمل د ډول انصاف.

د فساد د اجراکولو د عمل ثابتول ناپایه یو ګران کار دی. د تعریف له مخه، فساد یو پټ، مخفي فعالیت دی. هغه کسان چې په فاسدو چلندونو کې رابند پاتې دي دا تمایل لري چې خپلو غیر قانوني فعالیتونو ته بله بڼه ورکړي. هر څوک کېدای شي پوه شي چې یو سیاستوال او یا د عامه چارو چارواکی فاسد دی، خود عدالت سیستم ته با دا زښت ستونزمنه وي چې کافي شواهد تر لاسه کړي تر څو یوې محکمې ته 'تر منطقي شک وړندې' قناعت ورکړي.

هیڅ کوم قاضي چې مسلکي صداقت او رښتینولي ولري یو سیاستوال او یا د عامه چارو چارواکی به پرته له روښانه او قناعت روکوونکو شواهدو محکوم

نکړي. دا کار د فساد پر ضد مبارزه کې د جزا د قانو د هڅو پر وړاندې یو لوی خنډ رامینځته کوي.

سربېره پر دې، د جزا قانون ته پکار ده چې د یوه په جنایي توګه د جزا وړ جرم په تعریف کې وضاحت ولري. مبهمه جمله بندي د یوه ناقانونه چلند په قانوني توضیح کې د جزا په قانون کې کېدای شي قاضي د مظنون کس د برائت ورکولو پر لور سوق کړي، د یوه بل په ژوره توګه په لوېدیځ دود کې په کلکه ټینګ شوي اصل له کبله: پرته له قانونه هیڅ ډول جزا نشته (nulla poena sine lege). خو هر قانون کېدای شي دغه مقتضیات پوره ونکړای شي. هغه a) باید لا له وړاندې په اسنادو کې ورګډ شوی وی (nulla poena sine lege praevia)؛ b) په اساسي قانون کې د لا له وړاندې ثبت شویو رسمي طرزالعملونو مطابق وي (nulla poena sine lege scripta)؛ c) هغه باید واضح او قطعي وي، کوم چې د جنایي قانون لخوا د غوښتل شوي حقوقي اطمینان یو تر ټولو غښتلی وړاندشرط استازیتوب کوي (nulla poena sine lege certa)؛ او d) قانون باید سخت ګیر واوسي (nulla poena sine lege stricta)، معنا دا چې دغه پرتله د جنایي قانون په تعبیر او تطبیق کې منع ده. په روښانه توګه، د فاسد چلند جمله بندي په قانون کې ډېره سخته ده که چیرې هغه دغه ټول څلور مقتضیات پر ځای کړي. ننګونه پدې کې ده چې فاسد چلند کېدای شي و نه شي کولای چې دغه ټول مقتضیات په عین وخت کې پرځای کړي.

په عمل کې، د دې لامل په لاندې ډول دی: دا واقعاً ناشونې ده چې د یوه فاسد عمل پیچلتوب په یو څو واضحو، غوڅو او نامبهمو کلمو کې کښېباسو. کړه وړه او چلند باید په نورو انتزاعي اجزاوو ووېشو تر څو چې په مناسبه توګه د کلمو په وجه اظهار کړای شي. دغه بېلونه، که څه هم چې منطقي وي، کېدای شي په اسانۍ سره د هغه تمایز د لاسته راوړلو په وړاندې خنډ وکرځي، کوم چې د جزا د قانون د جمله بندیو سره سم پکار ده. په اغېزمنه توګه، که چیرې موږ د فساد ضد نړیوالو لویو کنوانسیونونو ته ځیر شو، موږ به ووینو چې دغه جمله بندي په عمومي توګه مبهمه ده څکه چې هغه د معمولاً سیاسي مذاکرو د پای د ټکي استازیتوب کوي. امضا کوونکو دولتونو ته پکار ده چې هغوی خپلو د جزا ملي قوانینو ته ولېږدوي، خو بیاهم. وروسته دا پوښتنه پیدا کېږي: دقیقاً کومې کړنې باید مجازات شي؟

د فساد پر وړاندې د سترو نړیوالو کنوانسیونونو د مفاداتو په ترکیبولو سره به دا شونې وي چې مشخصه یې کړو چې د فاسدو کړنو معنا څه ده. داسې ویل کېدای شي چې د عامه چارو چارواکو (یا عامه مقاماتو) د جزا وړ چلند په قصدي عمل کې نغښتي دی (فعال، غیرفعال، په ګومارنې او یا حذفولو ) کله چې په دنده کې دي، یا مستقیم او یا د نورو له لارې، د دوی د رسمي دندو په نقضولو سره (ناپیلتوب، عینیت او داسې نور) کوم چې غیرقانوني او یا غیر ضروري برترۍ او یا ګټې د خپل ځان لپاره او یا د نورو لپاره ترې لاسته راوړي. د جزا وړ په رویو کې باید ناقانونه وعدې شاملې وي، کومې چې د عامه چارو د کارکوونکو په واسطه شونې شوي دي (غیر فعال فساد)، همدارنګه مشخص چلند د خاصو افرادو لخوا (فعال فساد).

چې یوه بېلګه راوړو: آیا باید د عامه چارو د چارواکي مشکوکه شتمن کېدل د یوه بالقوه عامه جرم په توګه په جنایي توګه تر تحقیق لاندې راشي ، او یا دا د یوه کس شخصي قلمرو پورې اړه لري او باید په همدې سترګه ورته په کتلو سره تر تحقیق لاندې راشي؟ دا ډېره ساده ده چې ووینو چې دا څومره ګرانه خبره ده چې د جزا د قانون د مناسبو جمله بندیو یوه مسوده تر تیب کړو کومه چې دا ټول جزئي ټکي په ځان کې راکښېباسي ، خو کومه چې په عین وخت کې، وړاند وینې او په سمه توګه هر شونی غیر قانوني، فاسد چلند توضیح کوي.

بالاخره، هغه څه ته چې موږ بدنې یا سیستمي فساد وایو باید د هغه جرم په فکر ورته وکتل شي چې په عمومي توګه د شتمنو او واکمنو لخوا په ټولنه کې تر سره کېږي. غریب او کوښه شوي کسان لږ فرصت لري چې د قیمومیت/حمایتي شبکو کې د ګډون پرته په کومې فاسدې معاملې کې جوړجاړي

ته ورسېږي. څه ته چې ډېر کله د واړه او جزئي فساد په نامه يادېږي زياتره په مينځ کې ځای نيسي (د بېلګې په توګه، يو پوليس يو څه پيسې غواړي تر څو چې د ګرندي چلولو په بدل کې ټکټ ورنکړي). اقتصادی جرايم معمولاً د لوړ پوړو چارواکو او مشرو اجرايوي مامورينو لخوا په لوړه کچه ځايونو کې ترسره کېږي. ځکه چې جدي فساد د ټولنيزو او سياسي نخبګانو جرم دی، دغه ډول فساد يو جوړښتي جرم دی،داسې يو  جرم چې د ټولنې او دولت پر اساساتو اغېز اچوي. له همدې کبله هغه ته سيستمي/ بدني ويل کېدای شي – د هغې طريقې يوه برخه ده چې ټولنه فعاليت کوي. د هغه د مرتکبينو د ټولنيز او سياسي تړاو له وجې، فساد د قانون حاکميت، بنيادي سياسي او ټولنيزو حقوقو، د ازاد مارکېټ اقتصاد فعاليت، او پر حکومتي بنسټونو د عامو خلکو د ويسا لپاره زيان راوړونکی دی.د يوې شېوې محدوديتونه چې يوازې او يا هم په عمومي توګه د جزا د قانون پر ځېونکو اړخونو ولاړ وي د ټولو لوړ ذکر شويو عامه حياتي ښې ګڼو د محافظت لپاره ناکافي دي.

د صداقت او رښتينولۍ د ترويجولو او محافظت کولو له لارې مخنيوی، له همدې کبله، لازم الاجرا دی. ديموکراتيک سياسي رژيمونه او هېوادونه د غښتليو مخنيوونکو تګلارو سره داسې ګڼل کېږي چې تر هغو استبدادي رژيمونو چې دغه ډول تګلارې نلري، کم فاسد وي. مخنيوونکي تګلارې د قانون عامه اداري قانوني چوکاټ ته اړتيا لري چې په عامه تشکلونو کې د فساد په وړاندې د زيانمننو د کمولو توانايي په يوې متقابلاً فعاله توګه ولري، په داسې حال کې چې د يوې په ښه توګه فعاليت کوونکو ادارو داسې ارزښتونه لکه کارايي او اغېزمنتيا حفظ کړي. دا هغه ډول تګلاره ده چې د يو لړ هېوادونو لخوا تعقيبېږي لکه استراليا، متحده ايالات، جرمني او په ځانګړې توګه سکانډينويايي هېوادونه. دوی د کلونو په اوږدو کې دا مجاهدت کړی دی، د دوی يو لړ ان د لسيزو په اوږدو کې، تر څو په عامه اداري کې د غښتليو تفتيش او انډولونو (چيک او بيلانس)، حساب ورکوونکو مديرانو او مسلکي کارکوونکو او له قيموميت څخه پاکو د عامه چارو خدمتونو سره يو ځای شفافيت ترويج کړي.

# د فساد ضد تګلارو په بنسټیزه کولو کې زده شوي لوستونه

1. تشخیص مهم دی – خو دا یوازې د فساد په درملنه کې لومړی ګام دی. فساد داسې یو پېچلې پدیده ده چې د ساده طریقو په تعقیبولو سره یې کېدای شي د ګټې پر ځای زیات زیان ورسول شي. فساد یوازې د صداقت او رښتینولۍ د سیستم د اړینو عناصرو په پرله پسې او غوڅه توګه ، هم په سیاسي او هم په اداري کچو او په عامه او خصوصي سکتورونو دواړو کې کمېدلای شي. د دې کار د ترلاسه کولو لپاره هم مخنیوونکو او هم ځپونکو تدابیرو ته اړتیا شته. د صداقت او رښتینولۍ د یوه غښتلي سیستم جوړول سترو سیاسي او فني هڅو ته اړتیا لري د کومو پایښت چې باید د وخت سره و ساتل شي.

2. د فساد پر وړاندې مبارزه یو څو اړخیزه مجاهدت دی. ټول عمده نړیوال تړونونه د دې پدیدې څو – ابعادیزه بڼه مني. د 2003 کال UNCAC د هغو اړخونو او ساحو یوه ښه بېلګه ده، کومو ته چې باید رسېدنه وشي تر څو چې د فساد ضد معتبرې او هم عملي هڅې وکړای شي. همدا ډول پېچلتوب په دوو میثاقونو کې لیدل کېږي – د فساد پر ضد د اروپا د شورا – په جنايي او مدني کې.یو انفرادي بنسټ د خپل ټول واک او یا د ډېرې برخې په تمرکز ورکولو سره ټولو اړخونو ته، کومو ته چې رسېدنه پکار ده، ناشونې ده چې په اغېزمنه توګه یې له عهدې څخه ووځي.

3. په یوه انفرادي بنسټ کې د فساد ضد ټولو هڅو ته تمرکز ورکول (په تېره بیا که هغه نوی وي) کېدای شي د فساد پر وړاندې هڅې له خطر سره مخامخې کړي او د فساد ضد مبارزې پخپله د غیر قانوني قبضه کولو د اسانتیا لاره هواره کړي. د بنسټونو یو ګڼ شمېر چې په بېلابېلو ساحو (پارلمان، حکومت، قضا، عامه اداره او سیمه ییز حکومتونه) کې فعالیت کوي کېدای شي په اثبات ورسوي چې د فساد ضد هڅو ته په ټولیزه توګه بهتره مرسته کولای شي، په دې شرط چې دوی په مناسبه توګه بنسټیز شوي، اکمال شوي وي او یو له بل سره شبکه یې اړیکې ولري.

4. د نړۍ په شا او خوا کې ، کله چې یوې انتخاباتي او یا سیاسي ډندې ته نوماندان پرتله کېږي، صداقت او رښتینولي د مدیرانو لپاره یو بحراني غوراوی دی کله چې د عامه چارو خدمتونو یوې ډندې ته ګومارنه تر سره کوي. صداقت او رښتینولۍ ته اوس د یو لړ پراخو بېلابېلو وسیلو له لارې ترویج ورکول کېږي، د رهبرۍ د قوانینو، د چلند د قوانینو، د شخصي شتمنیو د اعلانولو ، پر شخصي شتمنیو د نظارت ، د روزنې او تعلیم او تربیې ، په عامه اداره او سیاست کې د شفافیت ، او د شخصي حساب ورکوونې له لارې.

5. دغه پوهه چې بنسټونه یو له بل سره تړاو لري او چې اصلاحات باید ډېر کله همغاړې وي، همدارنګه د 'بېل/جلا' بنسټونو او د هغو

بنسټونو له لښتليک څخه چې په معموله توګه د فساد ضد سترايژيو کې شامل دي، د تصور د پراختيا لامل وګرځېد. په داسې حال کې چې د ادارې پر کليدي عناصرو زيات ټينګار کېږي، د مالي کنټرول د اېجنيسو په ګډون، د محکمو سيستم، د قانوني تعقيب انفاذ او د جنايي عدالت نورې اېجنسۍ، همدارنګه هغه هيأتونه چې د عامه خدمتونو د پرسونل د اکمالولو او کاليو او خدمتونو تداراکاتو ته رسېدنه کوي، د دې خبرې اوس پوهاوی شوی چې د حکومت نور بنسټونه او مدني ټولنو ته همدارنګه پاملرنه پکار ده.

6. د عامه چارو سکتور هغه کليدي ډلې چې بايد په دغه شان سيستمي ستراتيژۍ کې شاملې شي عبارت له پارلمان؛ په ملي، منطقه ای او سيمه ييزه کچه د حکومت او عامه چارو ادارې؛ قضايي او د هغوی حمايتي بنسټونه؛ د کليدي څارنې اېجنسۍ، لکه ارزونه کوونکي او مفتشين؛ د قانون د پلي کولو اېجنسي او د جنايي سيستم نور عناصر دي. هر ډول معتبره ستراتيژي بايد په خپل ځان کې خپل ځاني سيمه ييز حکومتونه او د سياسي ګوندونو او انتخاباتي کمپاينونو تمويلول شامل کړي.

7. د نړې په شا او خوا کې نړيواله تجربه ښيي چې د متمرکز شويو څارنو اېجنسيو يو لړ برياليتوبونه يوازې په هغو هېوادونو کې تر لاسه کړي چې حکومتولي پکې په عمومي توګه ښه ده. د OECD هېوادونو په ډېريو کې، خو بيا هم، د فساد ضد هڅه او د صداقت رښتينولۍ پلوې تګلارې د يوه انفرادي بنسټ او يا اېجنسۍ لخوا انحصاري شوي ندي. د بنسټونو او ميکانيزمونو ګڼ شمېرتوب شته، هر يو يې د بېلابېلو مسئوليتونو او نقشونو سره او معمولاً د هغه ظرفيت لرونکي دي چې پر يو بل باندې پام وساتي، په داسې حال کې چې، يو د بل سره شبکه ييز تړاو هم ولري. د کمزوې حکومتولۍ په چاپيريال کې، د فساد ضد اېجنسۍ جوړې شوې دي، معمولاً د دباندينې فشار له وجې خو دوی ډېر کله د اعتار څخه ګټمنې ندي او کېدای شي د خپل ځان لپاره په ګواښ سره ګټې راپورته کړې. ډېر کله دوی د ورکړل شويو ګټو په واسطه اسيرې شوې دي – يا قانوني يا غير قانوني او يا خو هم دواړه. په ټول کې ، دوی ثابته کړې ده چې اغېزمنې ندي.

8. په يوه پراخ سياسي او اداري بنسټيز وضعيت کې په کمزورۍ سره ځای پر ځای شوي د فساد ضد تشکلونه احتمال لري چې د ناکامۍ يو بل ستر او ټول اړخيز لامل وي. هغه مهم لوست چې بايد د دغه ډول ناکاميو څخه واخيستل شي دا دی چې لومړيتوب بايد د اصلاحاتو پر هڅو تمرکز کولو ته ورکړل شي کومې چې په هېواد کې د حکومتولۍ ډول ډول ديموکراتيک سيستمونه غښتلي کوي. د حکومتولۍ پر کليدي عناصرو د دغه اساسي کار پرته، احتمال لري چې هر تخصصي بنسټ د ناکامۍ سره مخامخ شي.

9. سياسي لېوالتيا د حکومت نقش ته د فساد پر وړاندې د مبارزې او د هغې د مخنيوي بنې ته بدلون ورکوي، په ځانګړې توګه يو په ديموکراتيکه توګه ټاکل شوی اولس مشر يا د وزيرانو کابينه. سربېره پر دې سياسي لېوالتيا د شته قانون د اغېزمنو تطبيقولو او بيا کتنې او د کميو او تشو د ډکولو د اصلاحاتو د وړاندېز لپاره ټاکونکې ده.

10. نړيواله همکاري ارزښتمنه ده، پدې شرط چې نړيوال سازمانونه او يا دوه اړخيزه همکاري کومې مشخصې بنيادي او يا سازماني حل لاره نه تحميلوي/تپي. د تګلارې ډيالوګ بايد اصولاً د حکومتولۍ پر اصولو تمرکز وکړي چې ترويج کړای شي او تضمين يې وکړای شي، او پايلې يې لاسته راشي، د دې پر ځای چې پر طريقو او ابزارو چې يې تر لاسه کړو. دا خبره اساسي ده چې د بهرنيو تحميل شويو ماډلونو د فرهنګي ډډه کولو څخه مخنيوی وشي، کوم چې ډېر کله داسې وړاندې شوي چې ګواکې هر اړخيزه کارونه لري ، حال دا چې دوی د مشخصو تاريخي او سياسي

شرایطو څخه راشنه شوي. سیمه ییز مفهوم حیاتي دی او سیمه ییز مالکیت تر ټولو اساسي دی. اصول او معیارونه، خو بیا هم، هر اړخیز دي.

# نتیجه اخیستنې

1. مسلکي توب په عامه خدمتونو کې د بشري سرچینو په مدیریت کې د شایسته سالارۍ د اصل مضبوطو تطبیقولو ته اړتیا لري. پلوي، واسطه بازي، قیمومیت یا سرپرستي او حامي ګرایي د بې طرفۍ /ناپېیلتوب دښمنان دي او په پایله کې د عامه چارو د مسلکي خدمتونو په وړاندې خنډ ګرځي.

2. مسلکي توب ټیکاو ته اړتیا لري. اړینه عملي پوهه /کارپوهي نشي کولای پرته له ثابتو عامه خدمتونو راځرګنده شي او استحکام ومومي. سیاسي کول ټیکاو ته مضر دي، ځکه چې هغه په عمومي توګه د ډېرو عامه چارو کارکوونکو د ځاېناستۍ لامل ګرځي، هرکله چې حکومت بدل شي.

3. مسلکي توب د سیاست او اداري بېلېدنې او د دوی تر مینځ د فاصلې کرښې چنلو ته اړتیا لري. د عامه چارو خدمتونو خپلواکي باید په قانوني او مدیریتي توګه محافظت کړای شي. د خپلواکۍ دغه ارزښت باید د په سیاسي ډول ټاکل شویو چارواکو او د شایسته سالارۍ پر بنسټ تعیین شویو اداري چارواکو تر مینځ په اړیکو کې ورونغښتې شي، که څه هم چې دا خبره تصدیق شوې چې د عامه چارو خپلواک خدمتونه او یوه ښه عامه اداره په دایمي توګه یو مجاهدت او یوه موخه ده چې لاتر اوسه یې په ډېرو ملي قضایي حوزو کې د پوره لاسته راوړلو هڅې کېږي. د اداري پرېکړې کوونې لپره کېدای شي مسلکي توب ترویج کړي.

4. مسلکي توب د عامه چارو خدمتونو د چارواکو څخه ټینګ او مقاوم صداقت او رښتینولي غواړي، هم د ټاکل شویو څخه او هم د غوره شویو څخه. قانون او منجمنت باید د عامه خدمتونو کارکوونکو صداقت او رښتینولي او حسابورکوونه و ساتي او ترویج یې کړي. روزنه او دسپلیني بند او بسونه د مدیریت لازم الاجرا ابزارونه دي. د کړنې قوانین او د صداقت او رښتینولۍ پلانونه کولای شي د عامه چارو خدمتونو د مامورینو د چلند په اړه د مرستندویه لارښودونو وړاندیز وکړي.

5. د پوځي او د امنیتي سکتور بنسټونه به په دې ونه توانېږي چې خپل پرسونل په د پایښت وړ یوې طریقې مسلکي کاندي، که چیرې د عامه چارو اداره په یوه هېواد کې د فساد، د قیمومیت په شبکو او سیاسي کېدلو ځپل شوې وي. مسلکي توب او صداقت او رښتینولي په انزوا کې په یوه عامه بنسټ کې په وقعیت کې ناشوني دي او ضرور به لنډ ژوند ولري.

# د ښه حکومتولۍ د لړۍ لارښودونه









دغه لارښود د تخصصي هیأتونو یا اېجنسیو له لارې د فساد ضد تګلارو بنسټیزه کولو ته رسېدنه کوي. هغوی پدې وروستیو کلونو کې په ډېرو هېوادونو کې خپرې شوي ، په تېره بیا د نړیوالو سازمانونو او نړیوالو تړونونو تر اغېز لاندې د یوه ابزار په توګه چې د فساد مخنیوی او پر وړاندې یې مبارزه وکړي. پدې وروستیو کې یوې څېړنیزې شمېرې د فساد ضد اېجنیسو (ACAs) شمېر په نړۍ کې د سلو په شا او خوا کې وښود. د نړۍ تر ټولو نفوذ لرونکی کنوانسیون د ACAs په هکله د فساد پر وړاندې د ملګرو ملتونو کنوانسیون (UNCAC) شمېرل کېږي چې د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبلې کې د 2003 کال د اکتوبر پر 31 نېټه ومنل شو.

**ښې حکومتولۍ ته لارښودنې** د کوچنیو کتابګیو یوه ټولګه ده چې هر یو یې په خاصه توګه په دفاعي سکتور کې د ښه حکومتولۍ د موضوګانو د اهمیت په اړه بحث کوي. دوی کېدای شي چې د هغو کسانو لخوا ولوستلې شي چې یا په یوې موضوع کې لېوالتیا لري او یا خو هم په یو زیات شمېر موضوع ګانو کې چې په دفاعي سکتور کې د ښې حکومتولۍ په اړه دي ، یوه لېوالتیا ولري – او یا په عامه سکتور کې په عمومي توګه – او دوی همدارنګه کېدای شي د تعلیمي موخو لپاره وکارول شي.

ژباړونکی: د صداقت او رښتینولۍ مرکز په دفاعي سکتور کې
ډیزاین: www.melkeveien.no
چاپ: د ناروې حکومت امنیتي او خدماتي سازمان
د 2015 کال د دسمبر میاشت

پښتو ژبې ته د اصلي انګرېزي متن ژباړه د ناټو په مټ ترسره شوې

NATO OTAN

Centre for Integrity in the Defence Sector
www.cids.no